د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُم فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه شنبه ۱۷ جمادي الثاني، ۱۴۴۱هـ | ۲۰۲۰/۰۲/۱۱م | گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۶

مطبوعاتي اعلاميه

# موږ واحد امت وو؛ مګر «ملت پالنې» ټوټې ټوټې کړو

جوبایډن د امریکا د پخواني جمهور رییس بارک اوباما مرستیال او اوسمهال د ډیموکرات حزب له کاندیدانو څخه هغه دی چې په یوه خپل منځي حزبي مناظره کې یې ویلي دي: «زه په افغانستان کې د ملت جوړونې سخت مخالف وم. یوازینی کار چې باید په هغه سیمه کې یې ترسره کړو، له تروریزم سره مبارزه ده ... د دغه هېواد د یووالي هېڅ امکان نشته، هېڅ شونې نه ده چې افغانستان په یوه متحد هېواد باندې بدل شي.»

د حزب التحرير - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر دغه خبرې په سختو ټکو غندي او په اړه یې وايي چې د دغه خاورې وګړي د استعماري پروګرامونو او اشغال پر وړاندې همېشه متحد او سره یو وو. حال دا چې دا ملت جوړونه او د ملي فکر پر بنسټ حللارې دي چې له ځان سره د تفرقې او بېلتون پیغام راوړي. جوبایډن داسې مهال دغه فاسده، بې کاره او ورسته مفکوره د یووالي او وحدت د نسخې په توګه یاده کړې چې د دولت-ملت مفکوره د دې لامل شوې چې مسلمانان خپل ډال او عظمت (د خلافت واحد دولت)، له لاسه ورکړي او په وړو او کوچنیو واحدونو باندې ووېشل شي.

په واقعیت کې جوبایډن د هغه حللارې په اړه خبرې کوي چې د تولیدوونکو لپاره یې هم ښې پایلې نه دي درلودلې. دا ملت پالنه نه ده چې د امریکا ایالتونو ته یې یووالی ور په برخه کړی، بلکې دا د دښمن جوړولو سیاست او له بهرني دښمن نه وېره ده چې امریکا یې سره یوه کړې ده. لکه څنګه چې په دې وروستیو لسیزو کې امریکا، اسلام خپل ولس ته د تهدید په توګه ور وپېژاند او د اسلام پر وړاندې جګړه یې «د تروریزم پر وړاندې د جګړې» تر نوم لاندې پیل کړه، ترڅو ټول ایالتونه یې د مرکزي حکومت پر محور راټول شي؛ پرته له دې به امریکا هم ډېره ژر په تر پنځوسو ډېرو ایالتونو وېشل شوې وای.

غرب کلونه-کلونه د بېلابېلو لارو چارو په واسطه هڅه کړې ترڅو موږ کوچني او لا هم ډېر کوچني کړي او د دغه موخې لپاره یې د تجزیې بېلابېل پروګرامونه او نقشې تر کار لاندې نیولې دي. مګر د افغانستان مسلمان وګړي په ټول توان سره دغو پروګرامونو ته نه ویلي او دا ډول ناوړه پلانونه یې شنډ کړي دي.

مسلمانان هېڅ کله هم د هغو حللارو پر محور نه سره راټولېږي چې د اسلام له مبداء (ایډیولوژۍ) څخه نه وي. له همدې امله ده چې ملي پروژې او د دولت-ملت جوړونه د مسلمانانو ترمنځ ناکامه او پر ماتې محکومه وه. نو یوازینی حللاره چې مسلمانانو ته وحدت او عزت وربښي اسلام او د اسلامي امت مفکوره ده. مسلمانان یوازې د واحد امت په تمثیل او د راشده خلافت د دولت په بیا تاسیس سره کولای شي خپل اصلي عظمت او لوړوالي ته وروګرځي.

**د حزب‌التحرير - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**

د حزب التحرير رسمي ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.org
د حزب التحرير د مرکزي مطبوعاتي دفتر ویبپاڼه
www.hizb-ut-tahrir.info

د حزب التحرير ولایه افغانستان رسمي ویبپاڼه
www.hizb-afghanistan.org
ایمیل پته
info@hizb-afghanistan.org